# د خپلواکۍ او پرمختګ اړیکه

(د هېواد د خپلواکۍ د ۱۰۱ مې کلیزې په مناسبت علمي مقاله)



عبیدالرحمن رحیمي

بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالۍ!

**د هېواد د خپلواکۍ د اتل او په هېواد د مین شخصیت غازي امان الله خان سپېڅلي روح ته!**

**د څېړنې میتود**

د خپلواکۍ په اړه د مقالې لیکلو کومه علمي سیالي چې د افغانستان جمهوري ریاست د لوړ مقام پروګرامونو د چارو د همغږۍ معاونیت له لوري په لار اچول شوې وه، ما هم د دوي له غوښتنې سره سم (د خپلواکۍ او پرمختګ اړیکه) په اړه دغه لیکنه کې تر خپل وس او توان هڅه کړې، چې له مختلفو، دقیقو او کره منابعو څخه ګټه واخلم.

لیکنه کې مې د خپلواکۍ ارزښت او له پرمختګ سره یې اړیکه څېړلې، د خپلواکۍ په ګټو او همدارنګه په نورو بېلا بېلو برخو خبرې شوي.

## لنډیز(چکیده)

خپلواکي د الله ج له لوري یو نعمت دی، په کومو ملتونو چې خدای پېرزو کړي وي، په شتون سره یې د یوه ملت او هېواد پرمختګ شونی کېږئ، کوم هېواد چې د خپلواکی له نعمت څخه بې برخې وي، نه شي کولای، چې د هېواد د پرمختګ او نورو سره د سیالۍ لپاره هغه ډول اقتصادي پلانونه جوړ او په کار واچوي، چې له مخې یې د هېواد او هېوادوالو په اقتصاد کې مثبت بدلون راشي.

خپلواکي په اسلام کې ښکاره او واضح دلایل لري او خدای ج دنیا ته د انسانانو د آزادۍ لپاره استازي(پیغمبران) را لیږلي دي او دوی ته یې د ظلم او غلامۍ څخه د خلاصون دعوت کړی، چې د بنده ګانو د عبادت څخه یې د یو الله ج عبادت او بنده ګۍ ته رابللي او تل یې په دې برخه کې مبارزه کړې. د یوه هېواد خپلواکي د هغه هېواد د اوسېدونکو په ملي یووالي، پوهه او زده کړه، له نفاق او ژبني، قومي، سمتي، ګوندي او نورو اړیکو څخه په پاک چاپېریال کې خوندي کېدای شي. که د یوه هېواد اوسېدوونکي په خپلو کې په توکم، ژبې، سمت او نورو اړیکو سره وېشلي وي، نو غلیم او په مورچل کې ناست دښمنان په ډېره آسانۍ کولای شي، چې د هغه هېواد خپلواکي، نېکمرغي او سوکالي هر مهال له خطر سره مخامخ کړي.

تر ټولو ساده تعریف د خپلواکۍ لپاره چې ډېرعلمي پېچلي بڼه نه لري دا دی. (( خپلواکي د هغو پرېکړو د عملي کولو امکان دی، چې یو فرد یا ټولنه یې په خپله اراده تر سره کوي.))

په پورته تعریف کې اراده شرط ده، یعنې که یو فرد هره پرېکړه عملي کړای شي او هېڅ بل فرد، جوړښت یا سازمان یې کړنې او اعمال، وینا او فکر محدود نه شي کړای؛ دې ته د فرد مطلقه خپلواکي وایي.

احتیاج تر ټولو لویه غلامي ده، لوږه انسان د خپل آزادۍ غږ ته نه پرېږدي، ځکه هغه د خپلې لوږې غلام دی. د خپلواکۍ له ګټلو څخه د خپلواکۍ ساتل ډېر مهم دي. مونږ دوه سوه کاله د خپلواکۍ د ګټلو لپاره په غلطه مبارزه وکړه او له دې وروسته باید دغه دوه سوه کلن عادت نور بدل کړو، ټولې هغه قربانۍ مو چې ورکړي دي، د احترام وړ دي مګر ثمر یې څه و؟ د داسې یوې خپلواکۍ لپاره چې دوه سوه کاله مبارزه وشي او هېڅ ترې په لاس رانه شي، نو د داسې یوې خپلواکۍ لپاره به نورې څومره قربانۍ ورکوو؟

مونږ باید نور خپل طرز او تفکر د خپلواکۍ د ګټلو، ساتلو او پاللو په وړاندې بدل کړو، همدا طرز او تفکر بیا نورو ته انتقال کړو او په ټولنه کې یې عام کړو، د خپلواکۍ په اړه د خلکو شعور نوی کړو، چې وروره خپلواکي نه ده، چې ټول عمر په غره کې ناست یې او ډزې کوې، خلک په بمونو الوزوې، انتحاري حملې کوې، چریکي بریدونه تر سره کوې، په پردي توپ او ټانګ د جنګ په میدان کې د دښمن ماتولو ته دانګې، په یوه او بل نامه ورور وژنه کوې او ټاپې پرې لګوې.

پس خپلواکي د الله ج یو له هغه سترو نعمتونو څخه دی، چې باید په کله یې ساتنه او پالنه وشئ.

**عبیدالرحمن رحیمي**

## سریزه

دا چې خپلواکي د هېواد په پرمختګ، سوکالۍ او ښېرازۍ کې فعاله ونډه او د پام وړ اغېز لري، په دې اساس باید خلکو ته د خپلواکۍ د ارزښت، ساتلو او پاللو احساس ورکړل شئ او په دې وپوهول شي، چې له خپلواکۍ پرته د هېواد پرمختګ او سوکالي ناشونې کار دی.

همدارنګه هېواد پر خپلو اوسېدونکو حق لري، چې تل یې د پردیو له ناپاکو منګولو څخه خلاص وساتي، ځمکنۍ بشپړتیا یې خوندي کړي او هېڅ ورانوونکو عناصرو او پردیو مزدورانو ته ددې موقع ورنه کړي، چې په یوه او بله پلمه یې د هېواد خپلواکي او ځمکنۍ بشپړتیا له ګواښ سره مخ کړي.

کله چې شاه امان الله خان ته څرګنده شوه، انګلیسانو د یوه خپلواک هېواد او د نړۍ له نورو خپلواکو هېوادونو سره د مساوي حقونو د هېواد په توګه د افغانستان د رسمیت پېژندلو په اړه دده غوښتنې ته ځواب ونه وایه، نو د کابل په دربار کې یې د ۱۹۱۹ کال د اپرېل په ۱۳ مه په داسې حال کې چې د انګلستان سفیر هم ناست و، وویل:(( ما خپل ځان او خپل هېواد د کور دننه او بهر په بشپړ ډول خپلواک اعلان کړ. له دې وروسته زمونږ هېواد د نړۍ د نورو دولتونو او قدرتونو په څېر خپلواک دی او هېڅ ځواک ته د یو وېښته په اندازه حق نه ورکول کیږي، چې د افغانستان په کورنیو او بهرنیو چارو کې لاسوهنه وکړي او که څوک دا کار وکړي، ورمېږ به یې پر دې توره وربېم.)) وروسته یې مخ د انګلیس سفیر ته واړوه او ورته یې وویل:(( زما په خبره وپوهېدې!)) د انګلیس سفیر په ډېر درناوي ځواب ورکړ:(( هو، پوه شوم.))

همدا وو، چې هېواد مو د غازي امان الله خان په هڅو او قوي هوډ آزاد شو او هېواد ته یې دغه ستر ویاړ چې خپلواکي وه، ترلاسه کړه او اوس هر کال دغه ورځ په ځانګړو او شانداره مراسمو سره نمانځو. د خپلواکۍ تر ګټلو د خپلواکۍ ساتل څو څو چنده اړین دي.

له بده مرغه باید یادونه وکړو، چې د تاریخ په اوږدو کې له خپلواکۍ سره زمونږ تعریف او پېژاند ناسم و، مونږ فکر کاوه چې د جګړې په میدان کې د دښمن ماتول د آزادۍ په معنا دي، حال دا چې د آزادۍ جګړه د آزادۍ په معنا نه ده، بلکې د خپلواکۍ لپاره د هڅو یوه برخه ده، اوس زمونږ دوه سوه کاله کیږي، چې د آزادۍ لپاره جنګیږو، له انګرېزانو سره وجنګېدو چې آزادي به واخلو، له رنجېت سنګ سره وجنګېدو چې آزادي به واخلو، بیا له روسانو سره وجنګېدو چې آزادي به واخلو، له پاکستان سره وجنګېدو او همداسې اوس هم لا جنګ روان دی، خو که بېرته مرور پړې وکړو په دې تېرو دوه سوه کلونو کې مونږ هېڅ ډول خپلواکي نه ده لرلې، هېڅ مستقل هېواد نه وو، یعنې زمونږ ټول عمر د آزادۍ لپاره په جنګ کې تېر شو. دا ولې؟ ځکه چې مونږ د خپلواکۍ د اخیستلو او ساتلو شعور نه لرلو. که مونږ د خپلواکۍ د اخیستلو او ساتلو شعور پیدا کړ او خلکو ته مو هم انتقال کړ، نو مونږ به یو واقعي ملي فکري انقلاب راوستی وي.

**عبیدالرحمن رحیمي**

# خپلواکي او له پرمختګ سره يې اړيکه

آزادي تر پاچاهيه لا تېرى كا
چې د بل تر سيوري لاندې شي زندان شي

خوشحال ختټک

انسان په اصل کې آزاد دی او آزادي د انسان فطري حق دی. خپلواکي د ملتونو لپاره د لوی خدای ج له لوري يو ستر نعمت دی.

دا کلمه د ډېرو مفاهيمو لپاره کارول کيږي. مثلاً: لږ تر لږه په انګريزي کې( فريډم، لېبرټي، اټانومي، سېلف ډيټرمنيشن) هم خلک ورته وايي، تاسې فکر وکړئ پېنځه يا شپږ مفاهېم د هغه څه لپاره دي، چې مونږ يې ټول په خپلواکۍ باندې مانا کوو، خو په اصل کې دا ټول خپله بېله بېله معنی لري. تاسې ټول په انګريزي پوهېږئ، فرېډم يو ډول آزادي ده، چې استقلال تجربه کولای شي، يعنې دا ځانګړي ډول آزادۍ ته وايي. ددې لپاره په عربي کې هم بيا د حريت او استقلال کلمات کارول کيږي، چې دا ټول بېلې بېلې معناوې لري.

ددې تر څنګ ځيني نور معادل کلمات لکه عدم وابستګي، خود ارادیت او نور اصطلاحات هم ورته کارول کيږي، خو د پښتو کمال په دې کې دی، چې د خپلواکۍ درې مورفيمه کلمه يې له ژورې معنا سره رامنځته کړې ده او په کلي لحاظ دغه د ټولو ژبو اصطلاحاتو ته اطلاق کوي، خو دا سمه هم نه ده، چې دې ټولو آزاديو ته يې وکاروو.

په هر صورت، همدا خپلواکي د هرې ټولنې، ملت او هېواد د پرمختګ لپاره لومړيتوب دی او داسې يوه اړتيا ده، چې په نشتون يې پرمختګ ناشونی دی.

کوم ملت چې خپلواک نه وي تل د محکوم ژوند په لړلو سره د پرمختګ لپاره فکر نه شي کولای او که يې وکړي هم، په سم ډول يې نه شي عملي کولای او يا هم د پلي کولو په برخه کې له رنګارنګ ستونزو سره مخ کيږي.

خپلواکي څه ده؟

تر ټولو ساده تعريف د خپلواکۍ لپاره چې ډېرعلمي پېچلي بڼه نه لري دا دی. (( خپلواکي د هغو پرېکړو د عملي کولو امکان دی، چې يو فرد يا ټولنه يې په خپله اراده تر سره کوي.))

په پوره‌ته تعريف کې اراده شرط ده، يعني که يو فرد هره پرېکړه عملي کړای شي او هېڅ بل فرد، جوړښت يا سازمان يې کړنې او اعمال، وينا او فکر محدود نه شي کړای؛ دې ته د فرد مطلقه خپلواکي وايي. خو څرنګه چې انسان يو ټولنيز موجود دی او نه شي کولای مطلقه خپلواکي ولري، هغه ددې لپاره چې مطلقه خپلواکي د بل چا يا ټولنې د خپلواکۍ پولې ورماتوي، نو د همدې لپاره د افرادو او ټولنو د آزادۍ حدود د قانون په واسطه ټاکل کيږي. په دې مانا چې د خپلواکۍ هغه حدود چې د نورو د خپلواکۍ د حدودو د سلب، د ګټو د زيانمنېدو مخه نيسي، قانون دی، البته د تاريخ په اوږدو کې دغه پولې کله د اخلاقو په وسيله او کله د عقيدوي او ديني احکامو په وسيله هم ټاکل کيږي او زيان رسوونکې آزادۍ محدودوي.

بشري تاريخ دغه خبره په ياد لري، چې اخلاقو، اخلاقي موازينو، اجتماعي قراردادونو( چې پرمختللی شکل يې همدا اوسني قوانين دي) او حتی ديني احکامو هم د آزاديو د پولو په ټاکلو کې ونډه درلودلې ده او د قانون عامه معنی هماغه ده. اوس آزادي د همدغه قوانينو په حدودو کې د فرد لپاره تعريفېدای شي او مطلقه آزادي نشته.

نو څرګنديږي چې د مطلقې آزادۍ حدود يو د قوانيو په وسيله د مکان او زمان په تفاوت سره تفاوت مومي او کله کله هغه آزادي چې په اروپا کې ليدل کيږي، دا ګورئ په افغانستان کې آزادي نه ده. دلته د زمان او مکان فرق دی، يا لکه په تېرو پېړيو کې چې د آزادۍ څومره حدود وو، اوس هغه ډېر پراخ دي. زماني واټن هم د آزادۍ مفهوم او حدود بدلولای شئ، نو آزادي همدغه قانوني پولو په دننه کې د عمل وينا، فکر، اختيار او اراده ده، چې د بل يا نورو خپلواکي زيانمنه نه کړي.

فردي آزادي هغه ده، چې قوانين يې د بشري حقونو د نړيوالې ادارې پر بنسټ ټاکل شوي يا ټاکل کيږي، د بيان آزادي، اقتصادي فعاليت، مذهب، مېشتېدا، سياست او ډېر نور څه... چې تاسې يې د بشري حقونو اعلاميه کې په مراجعه کولو پيدا کولای شئ.

فردي خپلواکي

دا خبره به بيا وکړو چې فردي خپلواکي هغه ده، چې يو انسان يې د قوانينو پر آساس حق لري.

سياسي خپلواکي

له خپلواکۍ نه مو اصلي هدف همدا دی، دا خپلواکي په يوه هېواد او يوې ټولنې پورې اړه لري.

وايي چې د ملی حاکميت اعمال، سياسي خپلواکي، د ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه امنيتي خپلواکي ده، دا ټول د يوې خپلواکۍ تر عنوان لاندې راوستل کېدل، خو اوس دا برخې سره پرې شوي دي، سياسي خپلواکي، امنيتي خپلواکي او اقتصادي خپلواکي بېل بېل نومونه دي.

اوس دا پورتني درې مفاهيم سره بېل بېل او جلا دي، حاکميت اعمال سياسي خپلواکي او د ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه امنيتي خپلواکي ده، خو دا دواړه د اقتصادي خپلواکۍ تر اغېز لاندې ده.

د اقتصاد د نړيوال منطق پر بنسټ، چې وايي اقتصاد ګلوبلايز شوی دی په دې معنا چې وايي د اقتصاد د نړيوال منطق پر بنسټ، اقتصادي اړيکي له اقتصادي تجرد څخه خلاصون دی، دا هېڅکله د اقتصادي خپلواکۍ د له منځه تلو په معنا نه ده، هدف دا دی چې کله تاسې يو توليد رامنځته کوئ او د مثال په ډول په تاجکستان کې د هغې لپاره د بازار پيدا کولو ته احتياج لرئ، يا په لنډ ډول به يې ووايم لکه دا کوکا کولا چې په افغانستان کې توليد شوې ده، خو دا اړتيا هم لری، چې د تاجکستان په بازار کې هم اخيستوونکي پيدا کړي يا يې خرڅه کړي، نو دا په دې معنا نه ده، چې د تاجکستان بازار زمونږ اقتصادي خپلواکي را محدوده کړې ده، بلکې دا په دې معنا ده، چې مونږ د تجرد يا لريوالي څخه په دې توګه خلاصېږو او په دې اقتصادي برخه کې اراده او اختيار هم زمونږ خپل دی.

نو ددې لپاره چې دا دواړه سره ګډ نه شي، مونږ هم غواړو چې د اقتصادي همکارۍ په ارزښت خبرې وکړو:

اقتصادي خپلواکي

اقتصادي خپلواکي له سرچينو څخه د کار اخيستنې اراده او توان دی، په سياسي خپلواکۍ کې دوه شيان سلبيږي چې يوه ته يې استعمار او بل ته استثمار وايو يا د حبيب الله رفيع صاحب په خبره ښکېلاک او زبېښاک هم ورته وايي.

ددې دواړو منطق اقتصادي دی، استعمار په عربي کې طلب د تعمير کولو په معنا دی او استثمار د ثمر اخيستلو د تلاش په معنا دی، خو د دې دواړو بنسټ اقتصادي دی، يعنې هېڅ ډول استعمار او استثمار تاسو نه شئ پېژندلی، چې د هغه بنسټ اقتصادي نه وي.

نو ددې لپاره د استعمار او استثمار چون منطق اقتصادي دی، د استقلال او خپلواکۍ منطق هم اقتصادي دی، په دې معنا چې له اقتصادي خپلواکۍ پرته سياسي او امنيتي خپلواکي نشته. نو تر هغه چې له اقتصادي لحاظه خپلواک نه شو؛ نه به له امنيتی لحاظه خپلواک پاتې شوو او نه هم له سياسي پلوه. اوس چې هر څومره خلک ووژنئ، هر څومره ټانګونه په خلکو وخېژوئ، څومره چې زور ووهئ او غرو ته وخېژئ او هر څومره چې انتحاري برېدونه وکړئ، چې مونږ خپلواکي ګټو، خو تر هغې چې له اقتصادي احتياجه خلاص نه شئ؛ د خپلواکۍ ګټل ناشونی کار دی.

احتياج تر ټولو لويه غلامي ده، لوږه انسان د خپل آزادۍ غړ ته نه پرېږدي، ځکه هغه د خپلې لوږې غلام دی، د تاريخ په اوږدو کې له خپلواکۍ څخه زمونږ تعبير او پېژاند ناسم دی، ګورئ مونږ کيسې ډېرې اورېدلي دي، چې مرګ دې وئ، خو په ازادۍ کې دې وي، خو که ځير شو دا آزادي خو د ځان او ژوند لپاره يو ارزښت دی، چون دلته دوه مفهومه سره ګډ شوي دي، غواړم دې ته ستاسو پام ښه په غور راواړوم، خپلواکي ګټل يو ارزښت دی، ددې ارزښت لپاره که څه هم سړی مړ شي، دا يوه فداکاري ده او دا يوه ستره حماسه ده، خو که ځير شو، اصلي ارزښت خو خپلواکي د، دغه مرګ نه دی، يا په بله معنا اصلي ارزښت خپلواکي ده، چې د هغې لپاره مرګ پېښيږي، مونږ کله کله دغه فرعي ارزښت په اصلي ارزښت بدل کړی دی او اصلي ارزښت رانه هېر شوی دی، مونږ د تاريخ په اوږدو کې ټول عمر د

خپلواکۍ لپاره وژل شوي يوو، خو خپلواکي مو په سترګو نه ده ليدلې، نه مو ترلاسه کړې، نه مو لمس کړې او نه مو ساتلې ده، اوس دې ټکي ته راځو چې:

د تاريخ په اوږدو کې له خپلواکۍ سره زمونږ تعريف او پېژاند ناسم و، مونږ فکر کاوه چې د جګړې په ميدان کې د دښمن ماتول د ازادۍ په معنا دي، حال دا چې د آزادۍ جګړه د آزادۍ په معنا نه ده، بلکې د خپلواکۍ لپاره د هڅو يوه برخه ده، اوس زمونږ دوه سوه کاله کيږي، چې د آزادۍ لپاره جنګيږو، له انګريزانو سره وجنګېدو چې آزادي به واخلو، له رنجېت سنګ سره وجنګېدو چې آزادي به واخلو، بيا له روسانو سره وجنګېدو چې آزادي به واخلو، له پاکستان سره وجنګېدو او همداسې اوس هم لا جنګ روان دی، خو که بېرته مرور پرې وکړو په دې تېرو دوه سوه کلونو کې مونږ هېڅ ډول خپلواکي نه ده لرلې، هېڅ مستقل هېواد نه وو، يعنې زمونږ ټول عمر د آزادۍ لپاره په جنګ کې تېر شو. دا ولې؟ ځکه چې مونږ د خپلواکۍ د اخيستلو او ساتلو شعور نه لرلو. که مونږ د خپلواکۍ د اخيستلو او ساتلو شعور پيدا کړ او خلکو ته مو هم انتقال کړ، نو مونږ به يو واقعي ملي فکري انقلاب راوستی وي.

د خپلواکۍ ابزار څه دي؟

د خپلواکۍ ابزار د خپلواکۍ ابزار او اراده ده، شعور هغه پوهه ده چې ته د هغې پر بنسټ خپلواکي غواړې او غواړې چې ويې ساتې، د خپلواکۍ د ساتلو ملي ځواک ته اړتيا ده، ځکه موږ په ملي استقلال خبره کوو نه په فردي هغه.

ملي ځواکونه بايد د يوه شعور له مخې خپلواکي وساتي، له خپلواکۍ څخه د ټولنې د غړيو د انساني ژوند د شرايطو د ښه والي لپاره د کار اخيستل.

تاسې به خبر ياست چې هندوستان د خپلواکۍ لپاره دوه قهرمانان لري( که څه هم هغه ټول بهير د هغه لپاره قهرمانان دي او نور هم ډېر دي) چې ګاندي او جواهر لال نهرو، د نهرو کمال په دې کې و، چې د ګاندي په وسيله ګټلې خپلواکي يې وساتله او د هغه لپاره يې ميکانيزمونه رامنځته کړل، د هندوستان ولس يې ددې وړ کړ چې خپله ګټلې خپلواکي وساتي، خپله ډوډۍ پيدا کړي، خپل لونګ ولري، د خپلې غوا شيدې وڅښي....

د خپلواکۍ ګټل مهم دي او که د خپلواکۍ ساتل؟

په دې اړه په ډاګه ويلی شو، چې د خپلواکۍ له ګټلو څخه د خپلواکۍ ساتل ډېر مهم دي. مونږ دوه سوه کاله د خپلواکۍ د ګټلو لپاره په غلطه مبارزه وکړه او له دې وروسته بايد دغه دوه سوه کلن عادت نور بدل کړو، ټولې هغه قربانۍ مو چې ورکړې دي، د احترام وړ دي مګر ثمر يې څه و؟ د داسې يوې خپلواکۍ لپاره چې دوه سوه کاله مبارزه وشي او هېڅ ترې په لاس رانه شي، نو د داسې يوې خپلواکۍ لپاره به نورې څومره قربانۍ ورکوو؟

مونږ د تاريخ په اوږدو کې ډېر کله د توري ښاغلي، خو د سياست په ډګر کې پاتې راغلی او ځپلی ملت پاتې شوي يوو. ډېر کله مو د جنګ په ميدان کې دښمن ته ماتې ورکړې، خو په سياست کې مو بايللې ده.

د جنګ ګټل د هر څه په معنی نه شي کېدلای، ولې د سياست ګټل د ډېر څه د ګټلو په مانا دي. که مونږ له پخوا د جنګ پر ځای د سياست په ډګر کې ګټلي وای، اوس به مو ننۍ بدبختۍ نه درلودلې.

زمونږ د بحث اصلي موضوع داده، چې داسې يوه ملي مبارزه چې په نتيجه کې يې مونږ د خپلواکۍ اصلي بنسټ( اقتصادي خپلواکي) لاسته راوړو، د خپلواکۍ اصلي بنسټ اصلاً شعور دی، ملي خپلواکي هغه ده چې ټول د هغې له برکته خپل حکومت جوړ کړای شي، خپل فردي حقونه په کې تسجيل کړای شي، خپل اقتصادي فعاليت په کې ولري او له احتياجه په کې خلاص وي. دا ملي خپلواکي ده او مونږ دې دا ډول خپلواکۍ لپاره لا تر اوسه مبارزه نه ده کړې.

مونږ چې کله انګرېز او روس مات کړی، مونږ فکر کړی، چې مونږ خپلواکي ګټلې ده، حال دا چې هغه په يوه بله نوې جامه دې خاورې ته راننوتلی دی او تر پخوا څو چنده محکم.

مونږ که له احتياجه خلاصېږو اول به خود کفايۍ ته رسېږو. غنم به خپل خورو، ډوډۍ به په خپل ګاز پخوو، له خپلو منابعو څخه به په خپله ګټه اخلو او په خپله به يې ګټې اخيستنې ته چمتو کوو، توپ او ټانګ به په خپله جوړوو، برېښنا به مو خپله وي، او....

## پایله

د افغانستان د آساسي قانون د حکم پر بنسټ:

افغانستان؛ خپلواک، واحد او نه بېلېدونکی اسلامي هېواد دی.

په همدې آساس خپلواکي د هېواد په پرمختګ او سوکالۍ کې نېغ په نېغه اړيکه لري او دغه نامونه يو له بل سره تړلي دي. خپلواکي هغه حالت ته وايي، چې په کوم کې يو ولس، هېواد يا دولت په خپله خاوره کې بشپړ واک او اختيار ولري. خپلواکي د انسان طبعي حق دی، دا حق د نورو له آزادۍ او د عامه مصالحو پرته، چې د قانون له لیارې تنظمیږي، نه لري. د انسان آزادي او کرامت د تيري څخه خوندي دی. همدارنګه اسلام مسلمانانو ته د آزادۍ او خپلواکۍ درس ورکوي او تل يې مونږ ته له ظلم او تيري څخه د خلاصون لپاره د مبارزې امر کړی او په همدې توګه د ټولو پيغمبرانو راتګ نړۍ ته د خدای ج له اوامرو څخه د وګړيو خبرول او د غلامۍ د ژوند څخه يې د خپلواکۍ لاره ورښودلې، چې په همدې توګه که موږ څومره اسلامي واکمنۍ مطالعه کړو، نو تل به يې د وګړو په منځ کې د ميانه روۍ یا مساوات څرګندول دي.

کوم ملت چې خپلواک نه وي، تل د محکوم ژوند په لرو سره د پرمختګ لپاره فکر نه شي کولای. لکه په شاهي نظام کې عام وګړي له سیاست څخه لېرې وي. دوي وايي مونږ د دولت په چارو کې کار نه لرو، ځکه د دولت چارې ميراثي وي. په یوې ځانګړې کورنۍ پورې اړه لري. ملي شتمنۍ او ملي ارزښتونه خپل نه ګڼي. د ساتلو او د پرمختګ لپاره يې هڅه نه کوي. په دې اړه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم په وخت کې په دې موخه چې عام خلک د وطن د پرمختګ لپاره کار وکړي، يوه اعلاميه يې صادره کړه، چې تاسې دښتې؛ کرنيزې ځمکې وګرځوئ، که چا دښته په کرنيزه ځمکه بدله کړه، نو د هغه خپل ملکيت دی. نو همدا وو، چې وګړو بېله ځنډه کار وکړ او د هېواد ترقي او پرمختګ په دې ډول آزادۍ ورکولو کې نغښتې ده، نه دا چې بيخي د بې کورۍ او بې وطنۍ احساس وکړي، ځکه وايي چې هېڅکله بل څوک پرته له مزده چاته د هغه کور نه جوړوي، تر څو چې یا مزد ورنه کړې او یا يې په خپله جوړ نه کړي.

پس يو ځل بيا يې يادونه کوم، چې زمونږ د بحث اصلي موضوع داده، چې داسې يوه ملي مبارزه چې په نتيجه کې يې مونږ د خپلواکۍ اصلي بنسټ( اقتصادي خپلواکي) لاسته راوړو، د خپلواکۍ اصلي بنسټ اصلاً شعور دی، ملي خپلواکي هغه ده چې ټول د هغې له برکته خپل حکومت جوړ کړای شي، خپل فردي حقونه په کې تسجيل کړای شي، خپل اقتصادي فعاليت په کې ولري او له احتياجه په کې خلاص وي. دا ملي خپلواکي ده او مونږ دې دا ډول خپلواکۍ لپاره لا تر اوسه مبارزه نه ده کړې.

پس وېيلای شو، چې له خپلواکۍ پرته پرمختګ، ټولنيز امنيت، ثبات او ټولنيز عدالت پلی کول، همدارنګه د خلکو مدني غوښتنو ته لاس رسی ناشونی دی.

**د خپلواک، آزاد او پرمختللي افغانستان په هیله!**

## اخځلیکونه(منابع)


1. احدي، پروفیسور ډاکتر انور الحق، مرتب او ترجمه کبیر(رحماني)، ملي مسئلې، ۱۳۹۰ ل.
2. آزاد، ابوالکلام، ژباړن(هلال احمد)، په اسلام کې د خپلواکی انځور.
3. خپلواکي مجله، دوهمه دوره، لومړی کال، څلورمه ګڼه، ۱۳۸۴ ل.
4. رحیمي، عبیدالرحمن، غوره حکومتولي(څېړنیزه طرحه)، ۱۳۹۷ ل.
5. رحیمي، عبیدالرحمن، فکري وده(د پوهنې وزارت لپاره علمي او کاري طرحه)، ۱۳۹۸ ل.
6. لېوال، عبدالغفور، کندهار مجله، لکچر نوټ، ۱۳۹۲ ل.

**پای**

**کابل؛ افغانستان**

**۱۳۹۹** هـ.ش

**عبيدالرحمن رحيمي: شاعر، ليکوال**(تر دې مهاله مې ۹ جلده علمي آثار او څېړنيزې طرحې له چاپ راوتلي) **او د سياسي چارو کارپوه**

**تماس: 0780931162/ 0707603574**

**ايمل:** obaidurahman.rahimi48@gmail.com